# د معلوماتو غوښتنه

## محمد بصيري





### توضيحات

| | |
|---|---|
| **د زیږون کارول شوي نیټه:** ۱۹ سپتمبر ۱۹۷۲ | **د زیږون ځای:** سمنان، ایران |
| **د ویښتانو رنګ:** تور | **جنس:** نارینه |
| **ملیت:** ایرانی | |

### تفصيلات

محمد بصیری، د ایران د استخباراتو یو افسر، د تحقیقاتو فدرالي اداري (FBI) یو متقاعد ځانګړی استازی، رابرټ اې لیوینسن، په تښتولو، توقیف او احتمالي مرګ کې د هغه د ادعا شوی ښکېلتیا په اساس د پوښتنو لپاره په کار دي. لیوینسن د ۲۰۰۷ کال د مارچ په اتمه نیټه د ایران کیش ټاپو ته سفر وکړ، او د هغه له ورکېدو وروسته هغه په عامه توګه بیا نه لیدل شوی او نه اوریدل شوی دی. په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کې، یو ویډیو او عکسونه ترلاسه شوي چې لیوینسن په زندان کې ښودل شوی. د ۲۰۲۰ کال په ډسمبر کې، د متحده ایالاتو د خزانې وزارت په بصیري او احمد خازئ په دې تښتوني کې د دوی د لاس لرلو له امله بندیز ولګاوه. د خزانې د بهرنیو شتمنیو د کنټرول د دفتر له مخې، محمد بصیري د استخباراتو او د امنیت وزارت (MOIS) یو لوړ رتبه افسر دی چې د ایران په دننه او بهر کې د جاسوسۍ ضد او دایران د ملي امنیت مسلو اړوند حساسو فعالیتونو کې ښکیل دي. ویل کېږی چې بصیري د نورو هیوادونو استخباراتي چارواکو سره مستقیم کار کړی دی ترڅو د متحده ایالاتو ګټو ته زیان ورسوي. FBI خپلو تحقیقاتو ته دوام ورکوي ترڅو چې هغه نور ایراني چارواکي چې د لیوینسن په تښتولو کې ښکیل دي، وپیژندل شي.

**که تاسو د دې قضیې په اړه کوم معلومات لرئ، مهرباني وکړئ، levinsonfbireward@fbi.gov کې FBI ته بریښنالیک واستوئ، خپل ځایي/محلي د تحقیقاتو فدرالي اداري دفتر، نږدې امریکایی سفارت یا قونسلګری سره اړیکه ونیسئ، او یا tips.fbi.gov کې آنلاین لارښوونه وسپارئ.**

**ساحوي دفتر:** واښنګټن ډي سي